**داوطلبۍ ته بلنه**

**داخلي پرانیستې داوطلبي**

**پروژه:** د **افغانستان د تادیاتو سیستم آمریت لپاره د یو پایه یو پي اس چمتو کول او نصبول.**

**داوطلبۍ ته د بلنې شمېره: DAB/1400/NCB/G51**

۱. د افغانستان بانک ریاست په پام کې لري څو د ۱۴۰۰ کال لپاره د ځانګړو شویو وجوهو یوه برخه د پورته یادې شوې پروژې لپاره د **DAB/1400/NCB/G51** داخلي پرانیستې داوطلبۍ د کړنلارې په کارولو سره ولګوي.

۲. د تدارکاتو آمریت د افغانستان بانک په استازولۍ ټولو په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي څو د یادې داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي او د شرطنامې د شرایطو سره سم خپل سر بند آفرونه وسپاري.

۳. د دې قرارداد موده { **د توکو د تحویلۍ د جدول مطابق }** ده.

۴. دا داوطلبي د داخلي پرانیستې میتود پر بنسټ چې د افغانستان د تدارکاتو په قانون او کړنلاره کې ترې یادونه شوې ده، په لاره اچول کېږي او په شرطنامه کې په ګوته شویو په شرایطو برابر هېوادونو د ټولو داوطلبانو پر وړاندې پرانیستې ده.

۵. په شرایطو برابر ټول لیوال داوطلبان کولای شي په دري ژبه د افغانستان بانک د ویب پاڼې (www.dab.gov.af) څخه د داوطلبۍ اسناد راښکته کړي او د نه لاسرسي په صورت کې دې د (hezbullah.niazy@dab.gov.af) بریښنالیک او یا هغې پتې څخه چې لاندې یې یادونه شوې ده، د داوطلبۍ سندونه په خپل فلش دسک کې ترلاسه کړي.

**۶. آفرونه باید لاندې پتې ته د سهار له {10:00} بجو مخکې 1400/08/26 وسپارل شي. د یادونې وړ ده چې له ټاکلې مودې وروسته رارسیدلي او الکترونیکي آفرونه د منلو وړ نه دي.**

۷. ټول آفرونه باید د آفر د تضمین د لاندیني مبلغ سره یوځای وسپارل شي.

آفر تضمین: بانکي تضمین

**۸. د آفر د تضمین مبلغ 40,000 څلویښت زره افغانۍ**

د آفر د تضمین: بانکي تضمین د آفر د اعتبار له مودې څخه ۲۸ ورځې وروسته اعتبار ولري. یعنې د آفر د سپارلو د نېټې 1400/08/26 څخه تر ۱۱۸ورځو پورې یا د تمدید شوې مودې تر پای پورې، په هغه صورت کې چې د تمدید شویو داوطلبانو لپاره د کړنلارې د ۱۵,۲ مادې مطابق وي، د اعتبار وړ پاتې شي.

یادښت: د آفر د تضمین (بانکي تضمین) باید په اصلي نسخه کې وسپارل شي. هر ډول فوټوکاپي او یا سکن شوې کاپي د اعتبار وړ نه ده.

۹. پر شرایط برابر داوطلب باید لاندې شرطونه پوره کړي:

۱. **د داوطلب لپاره د خدمتونو حد اقل کاري حجم:** تجربه او تخنيکي ظرفيت: داوطلب بايد هغه اسناد ولري چې د تجربې او تخنيکي ظرفيت د لاندې معيارونو پوره کولو ښکاروندوی وي. د تدارکاتو د کړنلارې د ۵ شمېرې حکم او د تدارکاتو د قانون ۸ مادې سره سم د يادو توکو د چارو لپاره د ورته کاري تجربې معيار اړين نه دی.

داوطلبان بايد د اسنادو په چمتو کولو سره ثابته کړي چی په تيرو 10 کلونو کی د ورته قرارداد لږترلږه (يو/دوه) ترسره کولو تجربه د لاندی ارزش څخه ښکاروندوی وي. د تدارکاتو د کړنلارې د ۵ شمېرې حکم او د تدارکاتو د قانون ۸ مادې سره سم د يادو توکو د چارو لپاره د ورته کاري تجربې معيار اړين نه دی.

د نغدي شتمنيو او يا اعتباري اسانتياوو او د داوطلب د نورو خالصو قراردادي ژمنو خالص مبلغ په لاندې ډول دی: د اعلان له ورځې تر آفر پرانيستنې پورې **ټوليز ارزښت (500,000 پنځه سوه زره افغانۍ)**

۱۰. آفر پرانيستنه د داوطلبانو او د هغوی د واک لرونکو استازو په شتون کې د آفر د تسليمۍ د وروستۍ نيټې په پای ته رسېدو سره په لاندې پته ترسره کيږي.

**د آفر د سپارلو پته:**

د تدارکاتو لوی امريت، د افغانستان بانک، پښتونستان واټ، کابل، افغانستان

د اړيکو شميره: 202106692 (0) 93+

برېښناليک: ihsanullah.ihsan@dab.gov.af

ويب پاڼه: www.dab.gov.af

**نوټ: د داوطلبی د مخه ناسته: 1400/08/17 نيټه د سهار 10:00 بجی د تدارکاتو لوی آمريت کی دايريږی.**